هاري

واشنګټن 27/04/2009

# طالبان، پاکستان، او طبقاتي مبارزه

مقدمه:
نیویارک ټایمز ورځپاڼي د اپریل پر ۱۷ د پاکستان د روان سیاسي او امنیتي بحران په باب یو تحلیلي رپورټ خپور کړ. د رپوټ اصلي ټکی دا دی چي په پاکستان کي مذهبي ګروپونه د سیاسي حاکمیت د نیولو لپاره له طبقاتي تضادونو او اختلافاتو څخه ګټه اخلي. طالبان او ملایان د بي ځمکو بزګرانو او بېکاره ځوانونو له بې پایانه او ډکي سرچیني څخه لښکري جوړوي. د هغو فیوډالانو او خانانو جایدادونه ضبط او وېشي چي یا دایمي غیر حاضر دي او یا دمګړی د طالبانو له ډاره په ښارونو او خارج کي اوسېږي. باید ووایم چي رپوټ نه یوازي د پاکستان حالات بیانوي بلکي څه نا څه د افغانستان شرایط هم بیانوي. دا هغه لړی ده چي قریب دیرش کاله پخوا په افغانستان کي پیل سوه او په نتیجه کي افغان فیوډاله طبقه کاملا ستړه، کمزوري، او څو ځله بدله را بدله سوه. رپوټ ځکه تر ډېره حده بشپړ ژباړل سوی دی چي په سیمه کي روانو خطرناکو پیښنو او تحولاتو ته له یو بل اړخه او پرسپکتیف څخه ګوروي.

متن:
پاکستاني مامورین او مبصرین وایي طالبان په هېواد کي دخپل نفوذ او قدرت د خورولو لپاره په کلیوالي ټولنه کي د محدودو حاکمو فیوډالانو پر خلاف د بي ځمکو بزګرانو لښکري منظموي.

همدې ستراتیژۍ طالبان په سوات کي قدرت ته ورسول، او په سوات کي د حکومت همدی شاتګ ټول پاکستان له خطر سره مخامخ کړی دی په تېره بیا پنجاب چي د پاکستان زړه دی او نن سبا مذهبي افراطیانو خپل منزل مقصود ټاکلی دی.

د عیني شاهدانو په قول، په سوات کي طالبانو د سیمي محدود فیوډالان چي پخوا یې سیاسي قدرت لاره تېښتي ته اړ ایستلي دي. مبصرین او سیموال وایي طالبانو د همدې هدف د لاسته راړولو په غرض بې ځمکي بزګران او بېکاره ځوانان مسلح او پخپل ضربتي نظامي مټ بدل کړیدي.

همدې ستراتیژۍ طالبان پدې توانولوي دي چي پخپلو سیمو کي بېکاره او قهرېدلي عام ولس ته د اقتصادي لوټ او تالان څخه منظمه او برابره برخه ورکړي. په مقابل کي، د سیمي اوسېدونکي چمتو دي چي د امنیت او څه پاک حکومت په بدل کي د طالبانو سخت شریعت، ترور، او ډار وزغمي.

یو پاکستانی مامور وایي، " په سوات کي خونړي انقلاب وسو. که چیري همدا انقلاب د پاکستان زړه _پنجاب_ ته ورسېږي، ماته نوره یوه حېرانونکي خبره نده."

د طالبانو همدا قابلیت چي په پاکستان کي د طبقاتي تضادونو او اختلافاتو څخه ګټه واخلي، دا ښېره را پورته کړي ده چي ښایي طالبان او ورته مذهبي ډلي به همدا طبقاتي وسله د پاکستان په نورو سیمو کي هم پلي او عملي کاندي ځکه پاکستان اوس هم تر ډېره حده یو فیوډالي ملک دی.

سیاسي ماهران وایي، د هند بر عکس، پاکستان له اسقلال څخه را وروسته بیا هم د یوې محدودي فیوډالي او شتمني طبقي په منګلو کي را ایسار پاتي سو. تر همدې شېبې پوري، د پاکستان همدې واکمن فیوډال حاکمیت د هېواد بېشماره غریب کارګران، بزګران، او نیستمن خلک مطیع او کاره ساتلي دي. مختلفو پاکستاني حکومتونو د ځمکو د اصلاحاتو له اصلي دندي څخه اوړه خالي کړې ده، حتی عامه خلکو ته یې مقدماتي بشري، صحي، او د ښوونې او روزنې خدمات هم ندي برابر کړي. د پاکستان غریب او نیستمن کلیوالي خلک د خلاصون او پرمختګ لپاره هیڅ هیله نلري.

سیاسي تحلیلګران او ماهران خبرداری ور کوي او وایي کېدای سي چي د سوات تجربه په پنجاب کي په اساني سره عملي سي. په پنجاب کي همدا اوس مذهبي افراطیان مخ په وړاندي حرکت کوي. پنجاب د سوات او نورو قبایلي سیمو په شان ورته اجتماعي او سیاسي بدلون ته چمتو دی.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

پاکستان الاصله امریکایي وکیل او د جمهورریس اوباما پخوانی همصنفي، محبوب محمود، وایي،" د پاکستان خلک په سیکالوژیکي او ذهني لحاظ یوه انقلاب ته چمتو دي. سني افراطیت د پاکستان له تاریخي او طبقاتي تضادونو او درزونو څخه سوه استفاده کوي. افراطیان پر موسیقي او مکتبونو باندي د بندیزونو تر څنګ، د اسلامي عدالت، موثر حکومت،اقتصادي مساوات، او برابر وېش ژمنه هم کوي."

سیاسي مبصرین وایي په سوات کي د طالبانو ستراتیژي د تېرو پنځو کالو په ترڅ کي عملي او تجربه سوه. په سوات کي، قریب یو نیم میلون خلک ژوند کوي او د یوې شتمني او حاصلخیزي مځکي تر څنګ، د چارتراشو تجارت او د قیمتي کانو کانونه هم لري.

اوسنی مذهبي بغاوت دوه کاله پخوا هغه وخت لا زور واخیست چي د قبایلي سیمو څخه ځیني پخواني باتجربه جنګیالي او د القاعدې ترورستان د سوات مذهبي شورشیانو سره لاس یو کړ او د پاکستان پوځ یې له یوه نظامي بن بست سره مخامخ کړ.

پاکستانی پروفسور، خادم حسین، وایي طالبانو سمدستي په سیمه کي د سیاسي قدرت مرکزونه په نښه کړل. هغوی زمینداران او منتخب مشران چي زیاتره یو کسان وه پرله پسي ترور کړل. په عین زمان کي، طالبانو د هغو بې مځکو بزګرانو ملاتړ تر لاسه کړ چي خپلو خانانو، رشوتخورو قاضیانو، او لټو مامورینو ته یې زړه ډک او خوړین وو. په ۲۰۰٤ کي، مولانا فضل الله د خپل مذهبي پروپاګند د خورولو په مقصد یوه راډیو پرانیسته. مولانا فضل الله د عامه خلکو په ژبه تبلیغات پیل کړل. هغه د مېړو، پسونو، غوا، شیدو، او ښو ژوندي مثالونه ورکول. په ۲۰۰٦ کي، مولانا فضل الله پدې وتوانېدی چي د سیمي بې مځکي بزګرانو او بېکاره ځوانانو څخه یوه وړه مسلح ډله منظمه کړي. په لمړی وختونو کي، پر فیوډالانو او زمیندارانو باندي فشار اچول کېده چي خپل زامن له عصري او انګریزي ژبې مکتبونو څخه را وباسي. پر ځینو خانانو باندي فشار وو چي د طالبانو سره نقدي مرستي وکي.

په ۲۰۰۷ کي، د سوات لوی خان او فیوډال شجاعت علي خان او د هغه وړونه او زوی چي د سوات ښاروال هم وو، د طالبانو هدف وګرځېدل. شجاعت علي خان لندن ته ولاړ. وړور او زوی یې په اسلام اباد کي پټ دي.

لدې نه پس، طالبانو د ٤۳ نورو مخورو کسانو لست خپور کړ، او هغوی ته یې امر کړی وو چي د طالبانو محکمو ته حاضر سي او کني و به وژل سي. د طالبانو په تور لست کي شامل فیوډال، محمد شیر خان چي د پیپل پارټۍ غړی هم دی، وایي، "کله چي تاسو پدې پوهه سئ چي هغوی تاسو حتما وژنئ او په دار مو ځړوئ، څرنګه به بیا تاسو هلته د ورتګ جرات وکړئ؟ په لست کي زما نوم ماته دا وایي چي بیا سوات ته مه ځه" ښاغلی محمد شیر خان همدا اوس په پنجاب کي د طالبانو له ډاره پټ ژوند کوي.

په پاکستان کي هر چیري چي یو فیوډال تښتېدلی دی، هلته بزګران د مځکي خاوندان سویدي. په ځینو ځایونو کي، بزګرانو ته اجازه ورکړه سوې ده چي باغونه او ونې پرې کړي او بوټي یې خرڅ کړي. په ځینو ځایونو کي، بزګرانو ته امر سوی دی چي د غیرحاضرو خانانو پر ځای طالبانو ته د مځکي حصول ورکړه سي. د طالبانو د کنټرول لاندي سیمو کي د زمردو دوه کانه خلاص سویدي، او د دغو کانونو له دریو برخو څخه یوه برخه عاید افراطیانو اخلي.

د سوات په مرکز منګوره کي ولایتي مامورین مجبوره دي چي د طالبانو په شان پر مځکه کښېني او عموما یې شاوخوا رېږرور او مسلح مذهبي افراطیان را څرخېدلي ناست وي. د سوات په ډېرو منطقو کي، طالبانو امر کړی دی چي له هري کورنی څخه باید یو ځوان د طالبانو په صفوفو کي خدمت وکړي. د اکثرو غیر حاضرو خانانو او فیوډالانو مځکي غضب سوي دي، او یا یې حصول او پیسي د خاوندوانو پر ځای د سیمي طالبانو ته ورکړه کېږي.

---


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de